د زده کولو او بنودلو د حلقو جدول

# د سحر

## د نمونځ د پاره راپاڅول

د 11 جون 2026



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا يادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت:** **15 منټه-**

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې پهٔ **72 نیک اعمال** کښې د **یو نیک عمل** د **سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** پهٔ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د خوب نه د راپاڅیدو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!

## د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د چا چې دا خوښه وي چې د **اللّٰه** پاک پهٔ دربار کښې د پیش کیدو پهٔ وخت **اللّٰه** پاک د هغهٔ نه راضي وي نو هغهٔ له پکار دي چې پهٔ ما باندې ډیر درود شریف لولي- (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 21

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د **اللّٰه** پاک پهٔ فضل سره امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي د پاره د دې چې د هغه سوالونو پهٔ ذریعه خپله جائزه واخلي او د ګناهونو نه د بچ کیدو سره سره ډیرې نیکۍ اوکړے شي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 21** پهٔ باره کښې زدکړه کوو-

---

[1]... فردوس الاخبار، ٤/١٨٣، حديث: ٦٠٨٣.

**نیک عمل نمبر:** 21 آیا نن تاسو د سحر د نـمونځ د پاره ښوک راپاڅولې ؟

## د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول څهٔ ته وئیلے شي

د سحر د اذان نه پس، د جَمعې نه مخکښې پهٔ تنظیمي او شرعي دائره کښې دننه د نـمونځ د پاره راپاڅول **د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول** دي-

**وضاحت:** پهٔ دې تعریف کښې 4 ځیزونه بیان شول او پهٔ نیک عمل کښې د دې 4 واړو ځیزونو خیال ساتل ضروري دي- **(1): د سحر د اذان نه پس راپاڅول دي:** د دې نه مخکښې مهٔ راپاڅوئ **(2): د جَمعې نه مخکښې راپاڅول:** یاد ساتئ چې نیک عمل او دِیني کار دا دے چې د جَمعې نه مخکښې راپاڅول اوکړے شي- دا مقصد به پهٔ پوره توګه هله حاصلیږي کله چې د جَمعې نه مخکښې راپاڅولے شي چې خلق جومات ته لاړ شي او د جَمعې سره نـمونځ ادا کړے شي، البته که د جَمعې نه پس هم ښوک داسې ګس اودهٔ ووینې چا چې لا نـمونځ نهٔ وي کړے نو راپاڅوئ یې، ثواب به میلاؤیږي- **(3): پهٔ تنظیمي دائره کښې دننه راپاڅول:** یعنې کوم چې تنظیمي اُصُول او ضابطې او اِحتیاطونه دي، د هغې پهٔ خیال ساتلو د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول کوئ **(4): پهٔ شرعي دائره کښې دننه راپاڅول:** یعنې د راپاڅولو هره هغه طریقه کومه چې پهٔ شرعي توګه صحیح نهٔ وي، د هغې نه بچ کیدل- مثلاً ❁ میګا فون مهٔ اِستعمالوئ ❁ ځینې خلق پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د پیشمنې د پاره په ډول وغیره وهلو سره راپاڅول کوي ❁ پهٔ تیز اواز قوالیانې وغیره لګوي ، دا صحیح نهٔ دي، دې سره خلقو ته تکلیف رسیدے شي، وارهٔ ماشومان د دې پهٔ اواز راپاڅي، بوډاګانو او بیمارانو ته تکلیف رسیدے شي ❁ غرض هر هغه انداز کوم چې د نورو د تکلیف سبب جوړیږي، د هغې نه پهٔ بچ کیدو راپاڅول اوکړئ-

# آیت مبارک

**اللّٰہ** پاک فرمائيلي دي:

**وَ اْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَ اصْطَبِرْ عَلَیْهَا** (پاره:16 سورۂ طٰهٰ:132)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او خپل کور والؤ ته د نـمانځه حُکـم ورکړه او پخپله هم پۀ نـمانځه کلک اوسه-

د يو قول مطابق پۀ آيت مبارک کښې د **اهل** نه ټول مسلمانان مُراد دي-[1] د آيت معنیٰ دا شوه چې هر يو ګس له پکار دي چې پخپله هم نـمونځ اوکړي او نورو مسلمانانو له هم د نـمونځ دعوت ورکړي-

## خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د سحر د نـمونځ د پاره راپاخول کول

❁ کله چې دا آيت مبارک نازل شو نو رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به روزانه د سحر پۀ وخت د حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دروازې له تشريف وړلو او فرمائيل به يې: اَلصَّلَاۃُ رَحِمَکُمُ اللّٰہُ **اللّٰہ** پاک دې پۀ تا باندې رحم اوکړي، نـمونځ اوکړه--![2] ❁ حضرت ابو بکره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې زۀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د سحر د نـمونځ د پاره ووتلم، (پۀ لاره کښې به) نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اودۀ خلقو ته د نـمونځ د پاره اواز کولو يا به يې د ښپې نه خوزول-[3]

## د سحر د نـمونځ د پاره د راپاخولو متعلق حُکمونه او آداب

(1): د نـمونځ د پاره راپاخول د ثواب کار دے-[4] (2): که يو ګس د نـمونځ پۀ وخت

1...تفسير رازی، پاره:16، تحت الآية:132، جلد:8، صفحه:115-

2...تاريخ ابنِ عساکر، جلد:42 صفحه:136-

3...ابو داود، کتاب الصلاة/التطوع، باب الاضطجاع بعدها، صفحه:208، حديث:1264-

4...فتاویٰ رضويه، جلد:5، صفحه:378-

اودۀ دے، د هغۀ په باره کښې غالِب گمان دے چې که هغه ته غږ وکړے شي نو هغه به راپاڅي او نـمونځ به اوکړي نو د هغه راپاڅول واجب دي- [1] **(3):** د سحر د نـمونځ د پاره ډېر مخکښې راپاڅول نه دي پکار بلکې داسې وخت دې راپاڅولے شي چې اِستنجاء، اودس وغيره اوکړي او سُنَّت اوکړي او په تکبيرِ اولیٰ کښې شامل شي- [2]

## د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو فائدې

❀ **د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** په برکت پخپله د خپل نـمونځ حفاظت کيږي ❀**د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** په برکت سره د جومات په وړومبي صف کښې د تکبير اُولیٰ سره د سحر د نـمونځ د ادا کولو سعادت نصيب کيدے شي- ❀ **د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** په برکت سره چې څومره خلق هم نـمونځ کوي اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د هغه ټولو د نـمونځونو ثواب به هم ميلاؤيږي❀ **د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** په برکت سره جوماتونه اباديږي ❀ **د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** په برکت سره د نيکۍ د دعوت د ورکولو ثواب هم نصيب کيږي- **په رواياتو کښې دي:** ❀ څوک چې د نيکۍ د کارونو دعوت ورکړي، د هغۀ د پاره د هرې خبرې په بدله کښې د يو کال د عبادت ثواب ليکلے کيږي[3] ❀ د نيکۍ دعوت ورکول صدقه ده[4] ❀ **د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** په برکت سره پيدل گرځيدل کيږي او ❀ په پابندۍ سره د پيدل گرځيدو په وجه صحت هم ښه وي ❀ ذهني دباؤ هم قابو وي ❀ د ساه بندۍ د بيمارۍ نه نجات هم حاصليږي ❀ وزن صحيح وي ❀ بلډ پريشر صحيح وي او ❀ هاضمه صحيح کيږي-

1…بهارِ شريعت، جلد:1،صفحه:701،نماز کے احکام، صفحه:332۔

2…فتاویٰ رضويه، جلد:5، صفحه: 378۔

3…مکاشفة القلوب، باب فی الامر بالمعروف…الخ، صفحه:65، ملخصًا۔

4…مسلم، کتاب الذکاة، باب بيان ان اسم الصدقة…الخ، صفحه:362، حديث:1006۔

# د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو د عادت جوړولو طريقې

❀ د نـمونځ د نيکۍ د دعوت ورکولو او د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو فضيلتونه او فائدې پۀ ذِهن کښې ساتئ ❀ سحر وختې پاڅئ! د وختې پاڅيدو د پاره الارم (*Alarm*) لګوئ! د شپې زر اودۀ کيږئ ❀ کوم اِسلامي ورونه چې د سحر د نـمونځ د پاره پاڅول کوي هغوئې ته خواست کوئ چې تاسو هم راپاڅوي۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن مونږ د نيک عمل نمبر: 21 مطابق د **سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو** پۀ موضوع باندې ګټه ور معلومات حاصل کړل، نيت اوکړئ چې پخپله به هم د نـمونځ پابندي کوؤ او نور به هم د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅوو۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

**الله** پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د ښودلو او زده کولو پۀ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د خوب نه د راپاڅيدو پۀ وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَحْيَانَا بَعْدَمَآ اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ

ترجمه: ټول تعريفونه **الله** پاک لره دي کوم چې مونږ ته د مرګ (خوب) نه پس ژوند (بيداري) راعطا کړه او مونږ له د هغۀ طرف ته واپس ګرځيدل دي۔ (1)

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو

1...بخاری، کتاب....باب.....، صفحه:193، حديث6314۔

سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نـمونځ نه پس مو آيةُ الـکرسی، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الْاِخْلاص لوستلے؟ (6): آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلي یا اوریدلي؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلے؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آیا د فضول نظر نه پۀ بچ کیدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آیا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدینه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آیا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا پۀ تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آیا پۀ مکـتبة الـمدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو پۀ دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةُ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا پۀ 12 دیني کارونو کښې مو د

يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52):آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو خوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره

اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلي تپوس يا غم خوري او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا مخکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟